مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۱/۰۵/۲۳

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

نهه شپـیـتمه برخه

«کورونا» نا روغي، د لنډیو په غېږ کې

اولسمه برخه

په کورونا دې زه اخته شم
که ما وي کړي په یارۍ کې غفلتونه

ډېر لرې تللي خلک راغلل
کورونا وړې لالۍ بېرته نه راځینه

د بزرګۍ کیسې دې پرېږده
لار راته ښیه کورونا نیولی یمه

پر ما به هغه ورځ اختر وي
چې کورونا مې له وجود نه کډه شینه

د لنډیو د مقالو په ځینو برخو کې ویل شوي وو چې لنډۍ د ټولنیز ژوند د هنداري په ټوګه هغه مسایل منعکسوي چې د ټولنې په روان بهیر کې په عیني ډول شته وي، که ښه وي که بد، که منفي وي که مثبت هغه د لنډیو په همدې لنډ او هنري چوکاټ کې په هنري ډول بېرته ټولنې او خلکو ته په مخ کې اېښودل کېږي.

په اوسني ژوند کې کورونا داسې ستونزه ده چې د نړۍ په هېڅ برخه کې به څوک ورنه خلاص نه وي، توپیر یې دا دی چې چېرې لږه وي او چېرې بیا ډېره او داسې تباه کونکې چې هره ورځ په زرګونو انسانان د ګور تیارو ته لېږي. بشریت هم غلی نه دی او له دې بلا سره خپلې مبارزې ته دوام ورکوي.

پښتو لنډۍ همدا بلا هم له ټولو ستونزو او منفي اړخونو سره څرنګه چې ده، هماغسې یې انځور کړې او بېرته یې خلکو او ټولنې ته ورپېژندلې ده. دا د هغو لنډیو څو نورې بېلګې دي چې کورونا په کې یاده شوې ده:

ستونزې انبار له هرې خوا شوې
یو غریبې بل کورونا ده مړ به شمه

په کورونا دې زه اخته شم
که ما وي کړي په یارۍ کې غفلتونه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تل يې له ډاره غلی ګرځم
د کورونا له لاسه درې وړې يمه

په کورونا دې خدای اخته کړه
زه دې اخته کړم په سل رنګه مرضونه

خپله مې کړي ګيله نه شته
کورونا راغله رانه اخلي کساتونه

يو بېکاري بل کورونا ده
نور مې وس نه شته جا ته وکړم فرياد ونه

تر زهرو تريخ راباندې لګي
کورونا نښې چې بدن کې ښکاره شينه

کورونا راغله حال خراب دی
د ناروغانو دې رب مل چې چېرې وينه

د کورونا نوې څپې دي
لاليه پام کړه په هر لور دي ويروسونه

ډېر لرې تللي خلک راغلل
کورونا وړی لالی بېرته نه راځينه

کورونا هرچېرې بلا وي
خو د انګلند کورنا سم وژل کوينه

د بزرګی کيسې دې پرېږده
لار راته ښيه کورونا نيولی يمه

اشنا په خدای باندې دې سپارم
پام کورونا به په سنګر کې ناسته وينه

د کورونا څپو کې ورکه
زه درنه لاړم، بيا رالېږه سلامونه

پر ما به هغه ورځ اختر وي
چې کورونا مې له وجود نه کډه شينه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ